کله چې یو سړی کور ته ننوځي او د ننوتلو او ډوډۍ خوړلو پر مهال الله یاد کړي نو شیطان -خپلو ملګرو ته-ووایي: نه د اوسېدو ځای لرئ او نه درته ډوډۍ شته

له جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې ویيل یې: «کله چې یو سړی کور ته ننوځي او د ننوتلو او ډوډۍ خوړلو پر مهال الله یاد کړي نو شیطان -خپلو ملګرو ته-ووایي: نه د اوسېدو ځای لرئ او نه درته ډوډۍ شته، او کله چې کور ته ننوځي او د ننوتلو پر مهال الله یاد نه کړي نو شیطان ووایي: د شپې ځای مو پیدا کړ، او کله چې د ډوډۍ پر مهال الله یاد نه کړي، ووایي: د شپې ځای او ډوډۍ مو پیدا کړل».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته د ننوتلو او له ډوډۍ خوړلو مخکې د الله جل جلاله په یادولو امر کړی او که کور ته د ننوتو او د خوراک پیلولو په وخت کې یې د الله نوم یاد کړ او (بسم الله) یې وویله: نو شیطان خپلو مرستیالانو ته وایي: تاسو په دې کور کې د شپې تېرولو یا ډوډۍ خوړلو برخه نه لرئ؛ ځکه چې خاوند یې د الله جل جلاله په یادولو سره له تاسو څخه ځان وساته. خو که یو سړی خپل کور ته ننوځي او د ننوتلو یا خوراک کولو په وخت کې الله یاد نه کړي، نو شیطان خپلو مرستندویانو ته ووایي چې د شپې ځای او ډوډۍ مو پدې کور کې ده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3037